# د پښتون سټوډنټس فېډرېشن
# صوبائي انتخابات

اداره

د پښتون سټوډنټس فېډرېشن د صوبائي کابينې انتخابات د فروری د میاشتې په اوویشتمه نېټه د پي ایس ایف د صوبائي الیکشن کمېټۍ د چئیرمېن صدیق اپریدي، د پي ایس ایف د صوبائي الیکشن کمېټۍ د غړو فرید بنګش، افتخار باچا، راجن شاه او اجمل هوتي په نګرانۍ کښې پائې ته ورسېدل. په دې موقع د پي ایس ایف صوبائي ایډوائزر ارباب محمد طاهر خان خلیل او د عوامي نېشنل پارټۍ امن دفاع کمېټۍ چئیرمېن عمران اپریدي او د پي ایس ایف مرکزي صدر بشیر شېرپاؤ هم موجود وو. په دې موقع د سیکیورټي انتظامات د امن او دفاع کمېټۍ د چئیرمېن په مشرۍ کښې د ضلع پېښور او پېښور ښار د امن دفاع فورس ترسره کړل. د پي ایس ایف صوبائي کابینې الیکشن کښې دریو ډلو برخه اخستې وه چې پکښې د ماجد خان پېنل کامیاب شو. الیکشن د لاسونو د اوچتولو په ذریعه وشو چې پکښې د پي ایس ایف صوبائي صدر ماجد خان، صوبائي سنئیر نائب صدر تاج محمد وزیر، نائب صدر اول عبدالمجید، نائب صدر دوم عبدالمجید محسود لاګري، نائب صدر دریم حق نواز خان، نائب صدر څلورم پیرهارون علي شاه، صوبائي جنرل سېکټر ریاض مروت، ډپټي جنرل سېکټر ګلزار حسېن بابک، د اطلاعاتو سېکټر عمران مامي، د مالیاتو سېکټر اقبال خټک، جائنټ سېکټر اول واجد اقبال، جائنټ سېکټر دوېم طارق جمال، جائنټ سېکټر درېم احکام الدین، جائنټ سېکټر څلورم ناصر کمال، ثقافت سېکټر ضیاءالرحمان، د سنټرل کمېټۍ ممبران جلال خان او فرمان خان وټاکلي شول.

د الیکشن په لړ کښې د پښتون ایس ایف غونډې ته د پي ایس ایف صوبائي ایډوائزر ارباب محمد طاهر خان خلیل، د پي ایس ایف مرکزي صدر بشیر شېرپاؤ او نوي صوبائي صدر ماجد خان په خپله وېنا کښې ووې چې پښتون ایس ایف د پښتنو طالب علمانو یواځینے نمائنده تنظیم دے چې د پښتنو طالب علمانو د حقونو حاصلولو دپاره هلې ځلې کوي او د فخر افغان باچا خان او رهبر تحریک خان عبدالولي خان سوچ، فکر ، فلسفه او پېغام پښتنو بچو او اولس ته رسولو دپاره خپل کردار ادا کوي. دوي ووئیل چې مونږ جمهوري خلق یو او زمونږ ټولې فېصلې په جمهوري طریقه کېږي. دوي نوي کابینې ته مبارکي ورکړه او هدایت ئې ورته وکړو چې د پي ایس ایف تنظیم د پرمختګ او د پارټۍ په فعالیت کښې خپل مضبوط او کلیدي کردار ادا کړي او د باچا خان او رهبر تحریک خان عبدالولي خان پېغام د هر پښتون کور ته ورسوي. دوي ووئیل چې کوم سهولتونه چې د پنجاب په یونیورسټیو کښې طالب علمانو ته حاصل دي هغه د پښتونخوا صوبې تعلیمي ادارو کښې پښتنو بچو طالب علمانو ته حاصل نهٔ دي، هغه مراعات او سهولتونه دې د پښتونخوا صوبې تعلیمي ادارو کښې هم طالب علمانو ته ورکړے شي.

دوې دا هم ووئیل چې د پنجاب یونیورسټیو او کالجونو کښې د طالب علمانو د فیس وصولي کمه ده او د پښتونخوا صوبې تعلیمي ادارو کښې د فیس وصولولو شرحه زیاته ده چې د دې له کبله ډېر پښتانهٔ طالب علمان بچي د علم د رڼا حاصلولو نه محرومه پاتې شي نو دې دپاره دې د پښتنو طالب علمانو خیال وساتلے شي او د پښتونخوا صوبې یونیورسټیو او کالجونو

کښې دې د فیسونو د وصولي شرحه د پنجاب د
کالجونو او یونیورسټو برابر کړې شي چې غریبو
پښتنو طالب علمانو بچو ته د تعلیم حاصلولو موقع په
لاس ورشي.